**په کندهار کې د ډاکټر اشرف غني احمدزي له سیمه ییز دفتر څخه**

**د ټاکنو د شکایاتو کمېسیون ته!**

**د بشر حقونو خپلواک کمېسیون ته!**


**د** NDI **دفتر ته!**

**د** UNAMA **دفتر ته!**

ښې چارې ....

د زمري د **۲۹**مې، په ټولټاکنو کې د پراخو درغلیو په ترڅ کې موږ د درغلیو څو روښانه بېلګې له روښانه اسنادو سره درسپارو، هیله ده چې جدي څېړنه ورباندې وکړئ.

۱- موږ ته د میوند ولسوالۍ له کلا ښامیر او میراخور مرکزونو څخه ۱۹ پاڼې د رایې ورکولو د کارډونو د سیریل نمبرونو لیستونه په لاس راغلي دي چې ټاکلې وه، د اوو تنو ولایتي شورا کاندیدانو او د ولسمشرۍ کاندید ښاغلي حامد کرزي لپاره په ناقانونه توګه رایې واچول شي.



اته کاندیدان په لاندې ډول دي:

۱- حاجي نعمت الله

۲- حاجي سیدجان

۳- حاجي آغا لالی

۴- احمدولي خان

۵- حاجي کلاخان

۶- حاجي مختار

۷- افغانمل

د دغو لیستونو یوه

کاپي مو ستاسو کمېسيون ته دروسپارله.
د کلاښامیر مرکز رئیس عبدالرسول وايي د ټاکنو په ورځ پر لس بجې دی د میراخور مرکز ته ورغی، هلته د انتخاباتو د کمېسیون کارکوونکو د کلا ښامیر هغو ته ورته لیستونه کارول او صندوقونو ته یې رایې اچولې. دی وایي ده په ټلیفون کې عکسونه ځنې واخیستل خو د پولیسو قوماندان له ده څخه ټلیفون سیټ واخیست او له لسو بجو څخه یې د ماپښین تر دریېو بجو پورې لمر ته کښېناوه او دا ګواښ یې هم ورته وکړ چې که یې اعتراض وکړ، هلته له نږدې پراته سپي سره به یې وتړي. عبدالرسول زیاتوي کله چې د کلا ښامیر صندوقونه هم ماښام میراخور مرکز ته راورسېدل نو دا صندوقونه هم د شپې له خوا د کمېسیون د کارکوونکو له خوا له رایه پاڼو ډک کړل شول.
عبدالرسول ته تر اوسه نه د هغه ټلیفون سیټ ورکړل شوی دی او نه هم د کلا ښامیر د مرکز د مشر(محمدیوسف) له خوا د هغه لپاره ټاکل شوی د ماموریت مبلغ ورکول شوی دی او له همدې امله د سې شنبې په ورځ د سنبلې پر دریېمه ښاغلی نوښت ولایتي شورا ته د کاندید بسم الله افغانمل له خوا د روژه مات په بهانه د هغه کور ته غوښتل شوی و. کله چې دی ورغلی و، نو اول یې زیاتې سپکې سپورې ورته ویلې وې، وروسته یې پر خپلو وسلوالو ساتونکو امر کړی و چې سخت یې ووهئ. تر سخت ډبولو وروسته یې د کندهار امنیه قوماندانۍ ته سپارلی و، خو امنیه قوماندان د ښاغلي افغانمل دغه کړنه پر بشري حق تېری او ناقانونه بللې وه، ځکه یې ښاغلی نوښت خوشي کړی و. خو د نوموړي ټلیفون سیټ، موټرسایکل او نور د جېب شیان د افغانمل له خوا ګرځول شوي دي.




۲- د ټاکنو د قانون له مخې د ټاکنو په مرکزونو کې هر ډول کمپاین منع دی، خو د کندهار ولایت په ډېرو مرکزونو کې د کاندید حامد کرزي په ګټه د هغه د عکسونو او شعارونو په بڼه د هغه د

ناظرینو له خوا څرګند کمپاین کېده چې یوه بېلګه یې د احمدشاه بابا لېسه ده، هلته چې کله د کندهار والي توریالي ویسا او د کندهار د ټاکنو د کمېسیون مشر محمد قاهر واصفي د نورو چارواکو په شمول رایې ورکولې، نو د ښاغلي کرزي د ناظرینو پر سرونو سپینې پیک خولۍ وې، چې د ښاغلي حامد کرزي خندنی عکس له دغه شعار سره پر چاپ و.

"رای به حامدکرزی، رای به معارف و تعلیم است"

او ورته عکسونه او شعارونه یې د یوه فلزي حلقوي بېج په بڼه پر ټټرونو ټومبلي وو. هاخوا د پولیسو پر رېنجر موټرونو هم د ښاغلي حامدکرزي عکسونه نصب وو.






د ځینو ناظرینو د نظارت کارډونو پر تناب باندې په کتار څلور پینځه حلقوي ورته عکسونه نښتي وو، چې دغه مواد د کندهار د معارف ریاست له خوا جوړ شوي وو. دغه اسناد مو هم ستاسو کمېسیون ته له دغه لیک سره دروسپارل.

۳- په ملالۍ ښوونځي کې ماځیګر د رایو شمېرلو پر مهال د ټاکنو د کمېسیون یو کارکوونکی د احمدي په نامه ورغلی و او د حامدکرزي په ګټه یې رایې کارولې وې او هم یې د ځینو نورو کاندیدانو رایې پاڼې باطلې کړې وې او دا کار یې د کمېسیون د کارکوونکو او هم د فیفا د ناظرې(زاهدې) مخته کړی و.

نوموړي ورته کار په شهید عبداللطیف ښوونځي کې د ټاکنو د کمېسیون د کارکوونکي (شکورخان) او نورو کارکوونکو په مخکې هم کړی و او هم یې د لویې ویالې په سیمه کې د عربو کلا په ښځینه مرکز او نورو مرکزونو کې ورته درغلۍ کړې وې.

۴- د میرویس مېنې ښوونځي په مرکز کې چې صدیقه ترېنره هم حاضره وه، د ټاکنو په ورځ د یوولسو بجو پر مهال فریبا احمدي ورغلې وه او د ټاکنو کمېسیون د کارکوونکو په مخکې یې د کاندید حامدکرزي لپاره شپږ سوه رایې کارولې وې.

۵- د کندهار د ټاکنو کمېسیون کارکوونکی حاجي رسول خپلې دوې کارکوونکې (لیلا او سپما) له داوي ښوونځي څخه چې د رایو مرکز و، د دغه مرکز له صندوقونو سره د ښاغلي حامدکرزي د کمپاین د مشر فضل الدین آغا کور ته استولې وې، هلته یې صندوقونه خلاص کړي او له رایه پاڼو یې په ناقانونه توګه ډک کړي وو، د ماځیګر پر پینځه بجې یې دغه صندوقونه بېرته داوي ښوونځي ته وړي وو. لیلا یو وار په سهوه د داوي ښوونځي پر ځای د نتایجو په فورمه کې د فضل الدین آغا کور لیکلی و، خو د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د کارکوونکې شکریې ورپام شوی و او بېرته یې داوي ښوونځی پر لیکلی و. په دغو صندوقونو کې (۴۰۰) رایې د احمدولي کرزي، (۴۰۰) د حامدکرزي او ۳۵ رایې هم د مریم درانۍ لپاره اچول شوې وې، البته د رایې شمېرنې کار هم په هغه کور کې خلاص شوی و.